محمد ایاز نوري آزادي ۲۰۱۷/۰۶/۰۲

اې د افغانستان خلکو!

پرون د چهارشنبه ورځ ۱۰ د جوزا ۱۳۹۶ل –۳۱ د می ۲۰۱۷ز کال زمونږ د ګران او تاریخي افغانستان په پلازميني کابل د زنبق ځلور لارې کې يو موټر بم چاودنه وشوله. دا چاودنه دومره زوروره حساب شوې وه، چې ځاي په ځای يې ۹۰ کسان ووژل او د ۴۰۰ کسانو په شمېر يې ټپيان کړل، شا وخواء سمنټي ودانۍ يې ورانې او تر لرې واټنو پورې يې هيبتناک موج د خلکو د کورونو ښيښې ماتې او بې ګناه د کابل اوسېدونکو ته يې يو شديد روحي ټکان ورکړ.

د ناټو جګړه ايز ماشين د ۲۰۰۱ز کال د اکتوبر په ۷ نېټه په افغانستان يرغل وروړ، د طالبانو حکومت يې ړنګ او په تعقيب يې د جرمني د بُن په ښار کښې يې يو کنفرانس ته زمينه جوړه او هلته يې افغان نوی حکومت د جهادي تنظيمونو د يو شمېر جنايتکارانو او ورسره يو شمېر خپل افغان جواسيس او يو شمېر بې ضميره د چوکۍ او پيسو لیونيانو له ترکيب څخه جوړ او زمونږ هيواد ته ورصادر کړل، چې په سر کښې يې شاغلی حامد خان کرزی وه. د افغانستان دِپر ځپل شويو او توهين شويو په ګډه وړيو خلکو فکر کاوه، چې خبر خلاصه شوله او بابا امريکا او ملګرو يې پخې غوښې مونږ ته راوړلې. يعنی بابا غوښې، دودۍ راوړې...؟!. اما استعمار استعمار دئ او خصلت يې هم هغه پخوانی، ظالم او خود غرضه دئ.

دغه ده، نن د دغه ۴۴ هيوادو د اتحادي پوځي يرغل څخه کم هم نه بلکه ۱۶ کاله تېر شول او نتيجه د بابا د راتګ فقط مونږ افغانانو ته يو ملي مصيبت تمام شو او بس...؟!. همداء اوس د امريکا او انګليس په سروالي په هيواد کښې د هغوی ملکي نه بلکي پوځي شتون د ځمکي او هوا څخه حاکم دئ او همدا بهرني قوتونه دي، چې دغه ننی حکومتي تشکيل يې پر افغانستان تپلی او حمايه کوي يې. دِېره عجيبه ده، چې نن پس له ۱۶ کالو د زمونږ د دغو نا بللو مېلمنو د موجوديت نور د ژوند سهولتونه خو لا څه کوي، چې وسله وال جنګ روان او هره ورځ د دواړو خواوو څخه د يوه ملت زامن په کښې روان دي وژل کيږي. دا جګړه تر څو، آخر تر کومه پورې...؟ د ننې زمونږ هيواد ته د راوړل شوي مصيبت د له منځه وړلو اصلي قدرت او اختيار د متحده ايالاتو د دولت سره دئ، بناً زه لکه د افغان ملت يو بچی دغه لار تاسو افغانانو ته په ګوته کوم.

لومړی: د شمېر په بنسټ، چې څومره مو وس کيږي، سره ټول شی، يو بسټره هم هر يو تن درسره واخلی، خوارہ اوبه به نور ملګري درته دروړي، يو سوله ايزه مظاهره ترتيب کړی او لار شی په کابل کښې د متحده ايالاتو د سفارت مخې ته ورشی او هلته ورته په شپو شپو واړوی. يو شعار درسره يوسی او هغه دا چې:

اې د امريکا دولته او ملګرو مو!

«تاسو دغه ننی دولتي تشکيل پر مونږ افغانانو تحميل کړی دئ، دا تشکيل مونږ نه غواړو، تاسو مونږ ته زمينه برابره کړی، چې مونږ پخپله افغانان يو موقت حکومت جوړ کړو». دغه موقت حکومته به سمدستي په هيواد کښې حالت د اضطرار اعلان کوي او د وسله والو طالبانو سره به اوربند تامين کوي. امنيت به تام تينګ کيږي او بيا به خپله افغانان سره جرګه کيږي او د دولتي نظام دِول به سره ټاکي او د بهرنيو قواو د حضور په باب به فيصله سره کوي.

نو اې د افغانستان خلکو، چې قاطع حرکت ونه کړئ، همداسې به ناحقه وژل او تباه کيږئ

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ